د حزب التحریر
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

شنبه 18 شوال، ۱۴۴۵هـ ۲۰۲۴/۰۴/27م گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۵/17

## مطبوعاتي اعلامیه

## د مسلمانو دعوتګرانو تعذیب یو غیرشرعي عمل دی چې دنیوي او اخروي عذاب لري

د افغانستان استخباراتي ځواکونو په کابل، پکتیا، هرات او هلمند ولایتونو کې د حزب‌التحریر ځینې دعوتګران تر نیولو وروسته تعذیب کړي، چې په پایله کې یې په پکتیا کې یو کس د ډېرو جسمي او رواني فشارونو له امله پر رواني ستونزو او جنون اخته شوی او په هرات او هلمند کې د دوو نورو کسانو د اورېدو حس کمزوری شوی دی. دغه راز په تېرو څو ورځو کې دري کسان خلافت ته د دعوت په جرم په دولتي ادارو کې له خپلو دندو منفک کړل شوي؛ بیا ځارل شوي او د یوه دعوتګر د خسر کور کلک تلاشي شوی؛ دلیل یې دا و چې لیدو ته یې ورغلی. دا د هغو سلګونو مواردو یوازې یوه بېلګه ده چې د حزب‌التحریر دعوتګران په تېرو دوو نیمو کلونو کې د اوسني حاکم نظام تر چتر لاندې ورسره مخ دي.

موږ د حزب‌التحریر د دعوتګرانو پر وړاندې د تبعیض او تعذیب د غندنې تر څنګ د نظام هغو مسولینو ته چې په دا ډول اعمالو کې ونده لري، خالصانه تذکر ورکوو چې له دغې سترې فتنې لاس واخلئ چې نېک عاقبت نه لري او د نظام مخلصینو ته هم تذکر ورکوو چې ځینو کسانو ته په دا ډول اعمالو د مسلمانانو تر منځ فتنې اچولو اجازه ورنه کړي. ځکه د فتنې اور به د ټولو لمن ونیسي او زیانمن به یې کړي. د فتنې پر مهال سکوت او پر معروف امر او له منکر څخه نهی پرېښودل د فتنې او عذاب د پراخېدو لامل کېږي.

﴿وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْكُمْ خَاصَّةً ۖ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾ [الانفال: ۲۵]

***ژباړه:*** *ځانونه له هغې فتنې او مصیبتونو څخه لرې وساتئ چې یوازې د ظالمانو لمن نه نیسي (بلکې که د ظالمانو مخه ونه نیول شي، وچ او لانده د هغوی په ګناه سوځېږي) او پوه شئ چې الله سخت عقاب او شدیده جزا ورکوي.*

پوښتنه دا ده چې د حزب‌التحریر دعوتګران په کوم جرم نیول شوي او داسې په بې رحمۍ ځورول شوي دي؟ ایا هغوی په جنایي جرمونو، قتل، غلا او اختطاف کې لاس درلود؟ د فساد او رشوت پر مهال نیول شوي وو؟ بې بندوباره او ډاکوان وو؟ جاسوسان او د غرب مزدوران دي؟ نه! د حزب‌التحریر دعوتګران د یوه فرض د اقامې له امله نیول شوي او تعذیب شوي دي. دوی هغه کسان دي چې د امت د نهضت او عزت په لټه کې دي. د تعجب ځای دی چې له کوم وخت راهیسې او د کومو شرعي اصولو پر اساس دغه اعمال جرم تعریف شوي دي. په داسې حال کې چې د داسې یوه نظام تر چتر لاندې چې اسلامي بلل کېږي، خلک باید د جمعې فرایضو ترسره کولو ته وهڅول شي. خو له بده مرغه مفسدین، د نظام مخربین، غربي ډیپلوماټان او جاسوسان او هغه کسان چې په ښکاره د اسلام ضد جرایم ترسره کوي، ازاد فعالیت کوي؛ خو دعوتګران زندان ته اچول کېږي.

د نظام هغه مسولین چې د واقعیت له کره پېژندنې پرته په عقده‌یي ډول د خلافت له مفکورې او د هغې له دعوتګرانو سره مقابله کوي، پر ناسمه لار روان دي. خلافت کومه داسې مفکوره نه ده، چې حزب‌التحریر رامنځته کړې وي، بلکې په قرآن کریم، نبوي سنتو او د مسلمانانو په تاریخ کې ریښه لري. د خلافت مفکورې د له منځه وړلو لپاره هر ډول هڅه له اسلام سره دښمني ده. څوک چې دا ډول اعمال ترسره کوي، دوی خپله د اسلام، حاکم نظام او ټولنې خورا خطرناک دښمنان دي. دا مسولین باید له هغه څه څخه لاس واخلي چې هوای نفس او شیطان یې ورته ښایسته کوي. ځکه د خلافت له مفکورې سره دښمني او د دعوتګرانو پر وړاندې تبعیض او تعذیب د الله سبحانه وتعالی غضب او د مومنانو غوسه راپاروي.

﴿إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ﴾ [بروج: ۱۰]

***ژباړه:*** *هغه کسان چې مومنان او مومنانې یې ځورولې، بیا یې توبه ونه ایسته، د هغوی لپاره د دوزخ او سوځوونکې اور عذاب دی.*

**د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**